# معصومین علیهم السلام

## د حضرت امام جعفر صادق علیه السلام ژوند

عبد الرحیم درانی

بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بيه ميراث چې اهلبيتو(ع) له ځانه وروسته پريخى دى او د هغوي لارويانو هغه له ورک شونې څخه ساتلى دى د مکتب يوه کامله بيلګه ده چې د اسلامي علومو بيلا بيلې څانګې لري. او د علم ډير تږي يې له دې چينې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان يې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبيتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بيلا بيلو سوالونو، شبهو فکري بې لاريو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پيړيو کې يې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري يې اختسې ده ـ د رسالت له حريمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندى شوى ده. هغه حقيقتونه چې د بيلا بيلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفو خلکو هميشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړى دى. د اهلبيتو نړيواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبيت (ع) د ريښتني لارويانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې هميشه دې تهمتونو لرې کولو ته تيار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانى د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبيتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخيره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاويږي. ځکه چې دا تجربې او دليلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځايه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دليلونه ومني او قبول يې کړي.

د اهلبیتو (ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د اهلبیتو (ع) مذهب یې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقیقت د چینې تږو ته یې وړاندې کړي.

دې غونډې د شیعه وو د تېر شویو عالمانو لیکل شوې کتابونه او تحقیقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقیقت د لټوونکو لپاره د یو خوږې چینې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کیدو دی، د اهلبیتو (ع) هغې حقیقتونو ته چې د نړیوالو لپاره یې د تحفی غوندې پریخي دي غوږ کیدي.

هیله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قیمتي وړاندیزونو او ښو نیوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پیغمبر (ص) دین په خپروني کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدایه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشریف) د سوري لاندې نور توفیق هم راکړي.

دې ځای کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحیم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې یې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کیدو کې یې له مونږ سره مرسته کړې، په بیله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبیتو (ع) د نړیوالې غونډې
فرهنګي معاونت

# شپږم امام حضرت امام صادق علیه السلام

نوم يې جعفر كنيت "ابو عبدالله"او لقب صادق دی. پلار يې پنځم امام محمد باقر عليه السلام دی او د مور نوم يې ام فروه بي بي دی چې يوه پرهيزګاره او نيكه بي بي وه[1].

د هجرت په درې اتيايم كال د ربيع الاول په اوولسمه نيټه په مدينه كښې وزيږيدۀ[2]. عمر يې پنځۀ شپيتۀ كاله او امامت يې څلور ديرش كاله ؤ يعني د هجرت له يو سل څوارلسم تر يو سل اتۀ څلوښتم كاله پورې. د هغوي د امامت د وخت واكمنان

1. اعلام الورى ص 266
2. كافي ج 1 ص 472

د بني اميه وو"هشام بن عبدالملک "وليد بن يزيد بن عبدالملک، يزيد بن وليد، ابراهيم بن وليد، او مروان حمار او له بني عباسو څخه سفاح او منصور دوانيقي وؤ[1].

زامن يې امام موسی کاظم عليه السلام، اسماعيل، عبدالله، ديباج، اسحاق، علی عريض او لوڼه يې ام فروه اسماء او فاطمه دي[2].

## د امام اخلاق

ټول پاک امامان په خپل دور کښې د اسلامي عمل او اخلاقو يوه نمونه او بيلګه وو او ټول ژوند يې د اسلام د سپيڅلو او اصلي طريقو روښانه درسونه دي. د هيڅ شي ښوونه به يې نۀ کوله. مګر دا چې په خپله به يې پرې عمل کوؤ او له بدو کارونو به يې خلق نۀ منعې کول خو دا چې په خپله يې ترې ځان ساتلو. د شپږم امام د اخلاقو ځنې اړخونه دا دي:

**1** : ابي عمرو شيباني وائي امام جعفر صادق عليه السلام مې وليد چې جامې يې اغوستي دي. په بيلچه سره په باغ کښې کار کوي او په خولو کښې ډوب دي. ورته مي وويل: بيلچه

---

1 . اعلام الوری ص 266

2 . ارشاد مفيد ص266 و مناقب ج 4 ص 280

ماته راکړه چې ستا په ځائې کار وکړم، امام وفرمایل غواړم چې د روزۍ او معاش لپاره د تودوخې کړاؤ وزغمم[1].

**2** : امام صادق(علیه السلام) خپل یو ملګري "مصادف" د تجارت لپاره مصر ته واستوۀ او زر دیناره یې ورکړل، مصادف په هغو پیسو سامان واخستو او له نورو سوداګرو سره مصر ته لاړ. مصر ته نزدې یې له یوې قافلې چې له مصره راستنیده تپوس وکړو چې زمونږ د سامان حالت هلته څنګه دی؟ هغوي ویل چې دا سامان په مصر کښې نشته او قیمت یې ګران دي. مصادف او نورو سوداګرو صلاح وکړه چې خپل مال تر سل فیصده ګټې کم خرڅ نۀ کړي. او په مصر کښې یې همداسې وکړل چې له امله یې مصادف زر دیناره ګټه وکړه. مدینې ته ستون شو او امام صادق(علیه السلام) ته یې ده زرو زرو دینارو دوه کڅوړې ورکړې او وې ویل چې یوه کڅوړه اصل دي او بله ګټه. امام ورته وویل دا خو ډیره ګټه ده، څنګه دې تر لاسه کړه؟ مصادف ورته قیصه واوراوله. امام وفرمایل: سبحان الله عجیبه انصاف دی چې د مسلمانانو په تاوان صلاح شوئ، چې له سل فیصده ګټې به کمه نۀ اخلئ؟ بیا یې اصل پیسې واخستې او ګټه یې وانۀ خسته او وې فرمایل زۀ

1 . کافي ج 5 ص76 بحار ج47 ص57

دا ګټه چې په بې انصافۍ سره ترلاسه شوې ده، نۀ اخلم ای مصادفه! حلاله روزي ډېره ګرانه ده[1].

**3** : هارون ابن جهم وايي په "حيره" کښې د پوځ يو افسر په يو مناسبت ځينې کسان او امام صادق(عليه السلام) خپل کور ته وبلل، ډوډيۍ راوړل شوه، يو تن پکښې اوبۀ وغوښتې کوربه ورته د اوبو په ځائې د شرابو جام راوړو، امام له د سترخوانه پاڅيده او وې فرمايل: د خداي رسول فرمايلي دي، ملعون او د خداي له رحمته لرې دی هغه سړی چې په داسې دسترخوان ډوډۍ وخوري چې شراب پرې څښل کيږي[2].

**4** : ابراهيم بن بلاد وايي د يو غلام د ازاديدو سند مې چې امام جعفر صادق عليه السلام ازاد کړی ۀ، ولوستۀ، داسې پې ليکلي وو: جعفر محمد دا غلام يوازې د خداي د خوشحالۍ او رضا لپاره خلاصوم او هيڅ بدله ترې نه اخلم، پدې شرط چې مونځ وکړي، روژه ونيسي، حج وکړي، زکات ورکړي، د خداي له دوستانو سره مينه او د خداي له دښمنانو کرکه وکاندي[3].

**5** : مالک بن انس وائې: جعفر بن محمد تل يا روژه نيوله يا بې نمونځ کوو. او د خداي په ياد مشغول ۀ او له زاهدانو او

---

1 . کافي ج 5 ص 161 بحار ج 47 ص 59

2 . کافي ج6 ص268 بحار ج 47 ص39

3 . کافي ج6 ص181 بحار ج47 ص 44

عبادت کوونکو ګڼل کيده. حديثونه به يې زيات ويل، محفل يې ښئ او ګټور ؤ کله به يې چې ويل "قَالَ رَسولُ الله صلي الله عليه و اله "نو رنګ به يې بدليدۀ.[1]

**6** : د امام صادق(عليه السلام) يو ملګري قتيبه وائي: د امام صادق عليه السلام د ناروغ ځوي د پوښتنې لپاره هغوي کره ورغلم امام مې د کور په مخکښې وليدۀ چې ډير خفه او غمژن ؤ، د ماشوم پوښتنه مې وکړه، وې فرمايل په خداي قسم هغه تلونکی دی" بيا کور ته ننوت او څو شيبې ورسته په داسې حالت کښې راووت چې په ارام شوي ؤ، ما وې چې ګوندې ماشوم ښۀ شوی دی. بيا مې ترې د ماشوم پوښتنه وکړه وې فرمايل " له دنيا لاړ په حيرانتيا سره مې وويل: له تا ځار شم کله چې ژوندي ؤ نو خفه او غمژن وې او اوس چې مړ شونو هيڅ غم نۀ لرې؟ وې فرمايل مونږ د داسې کورنۍ غړي يو چې له مصيبته مخکښې انديښنه ښکندوؤ خو چې کله د خداي قضا راغله نو د خداي رضا او قضا ته تسليميږو[2].

**7** : معلي ابن خنيس وائي: په يوه باراني شپه کښې امام صادق(عليه السلام) طله بني ساعده ته روان ؤ، په هغۀ پسې شوم، په لاره کښې يې له سامانه څۀ څيز وغورزيد ، وې ويل: "بسم الله خدايه څۀ چې په زمکه پريوتل، ماته يې راستنۀ

---

1 . بحارج ص16

2 . کافي ج 3 ص225 بحار ج47 ص49

کړې" زۀ مخکښې ورغلم او سلام مې وکړ، وې فرمايل معلی، تۀ يې؟ ورته وې وويل "هو". وې فرمايل : په زمکه لږ ولتهوه که څه دې وموندل نو رايې کړه. په زمکه مې لاس ووهلو څو ډوډۍ مې په لاس راغلې او امام ته مې ورکړې، له امام سره د ډوډو يوه ډکه بوجۍ وه چې ډيره درنه ښکاريده. ما ورته وويل راکړه چې زۀ يې درسره يوسم. وې فرمايل: نه زۀ يې په خپله وړم. تۀ يوازې له ما سره راځه، له امام سره ظله بني ساعده ته ورسيدم يو شميرغريبان اودۀ وۀ امام د هر يو تر جامو لاندې يوه يا دوه ډوډۍ کيښوې او يو کس يې هم پرې نۀ ښودۀ اوبيا راستانۀ شول.

## د امام صادق(عليه السلام) واکمنان

امام صادق(عليه السلام) د هجرت په درې اتيايم کال د اموي خاندان د پنځم ظالم باچا عبدالملک بن مروان په زمانه کښې پيدا شو او د هجرت په يو سل څوارلسم کال د هشام بن عبدالملک په زمانه کښې د خپل پلار له شهادته وروسته په يو ديرش کلنۍ کښې امام شو.

د هغو اموي خليفه ګانو چې د امام د ژوکړې له وخت څخه د هجرت تر يو سل دوه ديرشم کاله پورې يې حکومت وکړو دا دي: عبدالملک بن مروان: د هجرت له پنځۀ شپيتيم تر شپږ

اتیایم کاله پورې حاکم ؤ. او د حکومت ورستي درې کلونه یې د امام له لومړیو دریو کلونو سره سمون خوري.

ولید بن عبدالملک: نهه کاله اته میاشتې.

سلیمان بن عبدالملک: درې کاله درې میاشتې.

عمر بن عبدالعزیز: دوه کاله پنځۀ میاستې.

یزید بن عبدالملک: څلور کاله یوه میاشت

هشام بن عبدالملک: یو کال

ولید بن یزید بن عبدالملک: یو کال

یزید بن ولید: شپږ میاشتې

ابراهیم بن ولید: دوه یا څلور میاشتې.

مروان خمار پنځۀ کاله او څو میاشتې، له بني عباسو څخه د هغۀ د ماتې او د هجرت د **132** کال د ذي الحجې په میاشتې کښې د هغۀ د مړینې په وجه دبني امیه ؤ حکومت ختم شو.[1]

بې شکه د امویانو قابو یوه پیړۍ حکومت چې د اسلامي تارخ تر ټولو تور تاریخ دی، اسلامي امت او اسلام د بني امیه ؤ د غرضونو او مقصدونو لپاره یوه لوبه او وسیله وه او هغوي خلقو ته هیڅ ارزښت نۀ ورکولو، یو اموي واکمن عبدالملک په خطبې کښې وویل څوک چې ما تقوی او پرهیزګارۍ ته راوبلي سر به یې پرې کړم، بني امیه ؤ د اسلام له هماغه پیل له دین او پیغمبر(ص) سره نۀ پخلا کیدونکې

1. الامام الصادق ج 1 ص 34، 37 تتمته المنتهی ص 57، 104

دښمني لرله، ورستی پیښی او د بدر او احد جنګونه ددې سبب شول چې بني امیه په زړۀ کښې له پیغمبر (ص) او امیرالمومنین حضرت امام علی علیه السلام سره سخته میرڅي ولري او ورسته ورته چې کله هم موقعه په لاس ورغلې خپله کینه او انتقام یې څرګند کړي دي. او له پیغمبر(ص) او د هغوي له کورنۍ سره له هر ډول چل ول او دوکې کار اخستي دی.

د هجرت له څلویښتم کاله، د امیرالمومنین علی علیه السلام له شهادته وروسته اسلامي نړۍ عملاً د بني امیه و لاس ته ورغله. امیر المومنین حضرت امام علی علیه السلام ته بد رد ویل او کنځل د هغي په ایجنډه کښې شامل وو. د کربلا عامه وژله د شهیدانو د سرخیل امام حسین علیه السلام شهیدول، په مدینې حمله او پکښې د قابو لسو زرو بې ګناه مسلمانانو وژله د هغوي د ښځو بې عزتي او لوټ مار د بني امیه و د ظلمونو ښکاره بیلګې دي تر دې وروسته هم بني امیه وو د حضرت امام علی علیه السلام او حسین علیه السلام د کورنۍ مینه وال په یو مخ وژلې او په تورو کوټو کښې یې بندي کړي دي، د څلورم امام حضرت زین العابدین علیه السلام ځوي "زید" د هشام بن عبد الملک په زمانه کښې شهید کړې شو. له شهادته وروسته یې مړي د هشام په حکم ځوړند کړې شو او څو کاله پس یې راکوز کړو او وې سوزولو.

د کربلا پیښه او له دې غمیزې وروسته د امامانو منفي تبلیغ د بني امیه ؤ له حکومت څخه د خلقو په کرکه کښې اغیزناک رول لرلو، د زید شهادت په دې کرکې په اور باندې د تیلو کار ورکړو او بالاخره د هجرت په **132** کال د امویانو د شرموونکي حکومت تغر ټول شو. په دغو تورو او تیارو پړاوونو کښې د امام باقر علیه السلام او امام صادق(علیه السلام) څرګند خدمتونه د اسلامي معارفو،علومو او ارزښتونو د ژوندي کولو لپاره د هغوي علمي غورځنګ ؤ، او د داسې عالمانو، فقهاوو روزل وو چې اسلامي نړۍ کوټ کوټ ته د دین او قران احکام بې انحرافه او د خلافت د دربار له لاس وهنې پرته ورسوي او د عقایدو د بې لا ري توبه مخه ونیسي. دا مبارزه او مقابله له ځینو اړخونو له نورو مبارزو ګرانه وه او په دغه ګران کار کښې د هغوي کامیابي ددې سبب شوه چې نن ګورو چې د بني امیه ؤ د یوې پیړۍ له تیارو ډک او اسلام مخالفه حکومت سره سره د دینداری اصلي اډه او مرکز وران نۀ شو. که څه هم امویانو ډیر کوشش وکړو چې اسلامي امت جاهلیت ته ستون کړي خو د پاکوامامنو کوششونه په تیره بیا د ښو شاګردانو روزل او په اسلامي ټولنه کښې د سمو احکامو خپرول د امویانو دلاري غټ خنډان وو او بالاخره دښمنان په خپلې موخې کښې چې د اسلام د بنیاد ړنګول وو ناکامه پاتې شول.

بني عباس د پيغمبر(ص) د ترۀ عباس بن عبدالمطلب له نسله وو، په لومړيو کښې يې د کربلا د شهيدانو د کسات او د امويانو له ظلم سره د مبارزه په پلمه خلق راټول کړل او دحضرت علی عليه السلام له کورنۍ سره د خلقو د مينې په استفادې سره يې په دې بانه چې له امويانو به حکومت واخلي او سم حقدار ته به يې ورکړي، له امويانو سره مبارزه وکړه. د ابو مسلم خراساني او ايرانيانو په مرسته يې بني اميه له منځه يوړل او په ځائې ددې چې خلافت د وخت امام جعفر صادق عليه السلام ته ورکړي، پخپله يې د حکومت واګې په لاس کښې واخستل. بني عباسو ډيره ظاهروله چې په اسلام پابند دي. په دې نامه چې مونږ د پيغمبر(ص) خپلوان يو،ځانونه به يې د پيغمبر(ص) حقيقي وارثان بلل او لکه څنګه چې پخپله تر ټولو خه پوهيدل چې ددې مقام قابل نۀ دي. د خپل حکومت له پيله يې د مخکښې په شان امام صادق(عليه السلام) په سخت دباؤ کښې راوست او په هرې ممکنې طريقې يې کوشش وکړو چې خلق د نبوت او امامت له کورنۍ لرې وساتي چې هغه حکومت او خلافت چې د پيغمبر(ص) د کورنۍ او نسل په نامه يې تر لاسه کړې دی، له لاسه ورنۀ کړي. امام صادق(عليه السلام) په دې ټوله موده کښې په تيره بيا د منصور په حکومت کښې تر څارنې او دباؤ لاندې ؤ او حتی کله کله به ورسره د خلقو رابطه بالکل غوڅه کړې شوه.

منصور دوانقي په امام، د هغۀ په پيروانو او نوروعلويانو باندې له هيڅ ظلم اوجرمه دريغ نۀ کولو او د بني اميه ؤ په لاره روان ؤ. امام ځينې ملګري لکه "سدير" عبدالسلام بن عبدالرحمن او داسې نور يې شهيدان کړل او عبدالله بن حسن چې د امام حسن مجتبي عليه السلام نمسي او د علويانو يو لوئې کس ؤ، عراق ته جلاوطن کړ او هلته يې بندي او بيا شهيد کړ[1]. له بلې خواه يې دا کوشش کوؤ چې په هرې طريقې سره وي اسلامي امت هغۀ ته مخه کړي او هغه د محمدي دين او شريعت امين او د خداې د رسول خليفه وګڼي او ټينګار يې کوؤ چې ځان د پيغمبر(ص) له اهلبيتو ولولي او په مغالطې سره د امامانو او د خداي د رسول د حقيقي وصيانو ځائې ونيسي.

له امام څخه يو ملګري تپوس وکړو چې زمونږ ځينې ملګري او ستا اصحابان چې په سختۍ کښې دي که د بني عباسو لپاره کار وکړي او پيسې واخلي ستا په خيال دا څنګه ده؟ امام وفرمايل زۀ نۀ خوښوم چې د بني عباسو لپاره يوه غوټۀ وتړم يا يوه کرښه راکاږم که څه هم ډيرې پيسې راکړي ځکه چې څوک له ظالمانو سره مرسته کوي د قيامت په ورځ

1 . جامع الروه ج 1 ص 150، 448 بحار ج 47 ص 195 تحفه الاحباب ص179 منتهى الامال ج 1 ص 195

به په اور کښې وي تر دې چې خداي پاک د خپلو بندګانو تر مینځ حکم وکړي.

امام جعفر صادق(علیه السلام) حتی په لیکونو او کتنو کښې کله کله منصور غندلو منصور په یو لیک کښې امام ته ولیکل، تهٔ ولې د نورو په شان مونږ ته نهٔ راځې؟ امام یې په ځواب کښې ولیکل مونږ سره د دنیا هیڅ نشته چې د هغې په وجه له تا ویریږو، او تا سره هم له معنویاتواو اخرت هیڅ نشته چې هیله درته ولرو، نهٔ تاته کوم نعمت درکړل شوې چې مبارکۍ ته درشو، نهٔ په مصیبت کښې یې چې غمرازي درسره وکړو نو څهٔ ته درشو؟ منصور ورته ولیکل راشئ مونږ ته نصیحت وکړئ. امام په ځواب کښې ولیکل څوک چې د اخرت په غم کښې وي تا ته نهٔ درځي[1].

## امام صادق(علیه السلام) او حضرت زید بن علی

د څلورم امام زین العابدین علیه السلام ځوې حضرت زید یو لوئې اسلامي شخصیت او د علم تقوی او فضیلت یوه ځلانده څیره ده، زید د امویانو د حکومت په سختې ساه ډوبې کښې پاڅون وکړو په میړانتیا سره وجنګید او په شرافت سره شهید شو، د حضرت زید له تقوی او نوره ډک ژوند او بالاخره د هغهٔ

---

1 . کشف الغمه ج 2 ص 448 بحار ج 47 ص 184

پاڅون او شهادت د هغې روزنې ښۀ ښوونکې دی چې هغه بزرګوار د امامت په کورنۍ کښې له خپل پلار او وروره کړې وه. اسلامي پوهان د حضرت زید په علم، تقوی او فضیلت اتفاق لري. امامانو هم په ډیرو ځایونو کښې زید ستایلی دی او د فضیلت روایتونه دومره زیات دي چې شیخ صدوق رحمه الله علیه په "عیون اخبار الرضا" کتاب کښې د غو روایتونو ته یو باب بیل کړی دی.

له حضرت زید سره د مدائن بصرې واسط، خراسان، ری، موصل او نورو ښارونو تر پنځلسو زرو زیاتو کسانو بیعت وکړو او زید د هشام په خلاف پاڅون وکړو خو په جنګ کښې ورسره ملګرو سستي وکړه او ورو ورو ورځنې په شا شول تر دې چې زید پخپله شهید شو د هغۀ ملګرو د هغۀ بدن په یوې ویالۍ کښې ښخ کړو او اوبۀ یې پرې رواني کړې خو دښمنانو وموند، راوي باسۀ سر یې ترې جدا کړ او هشام په حکم سره یې بدن په کوفې کښې بربنډ ځوړند کړو، څوکاله یې مړی د شهادت د بیرغ وال په شان ځوړند ؤ. تر دې چې د هشام په حکم سره وسوزول شو او ایرې یې هوا ته وسپارلې. د زید د شهادت خبر امام جعفر صادق علیه السلام ډیر غمژن کړو او زر دیناره یې ابو خالد واسطي ته ورکړل چې د هغو کسانو په

کورنیو یې وویشي چې د زید په څنګ کښې شهیدان شوي دي[1].

## د امام جعفر صادق(علیه السلام) مناظره

د امویانو د حکومت په وروستیو او د عباسي حکومت په لومړیو کلونو کښې د حکومتونو د مشغولتیا او د ساډوبې او پابندۍ د فضا د کموالي په وجه امام جعفر صادق(علیه السلام) ته دا موقعه په لاس ورغله چې خپل علمي، مذهبي غورځنګ پراخ کړي او عملاً مدینه په یوې دیني مدرسې بدله شوه چې د علم په زرګونو لیوالو به په بیلا بیلو ځانګو کښې له امامه زده کړه کوله. په ټولو اسلامي سیمو کښې د حضرت امام علی علیه السلام مشهورتیا دومره زیاته وه چې خلق له لرې لرې سیمو څخه د هغوي درس ته رامات وو، حتي ځینې غیر اسلامي مفکران او پوهان به هم له امام سره د علمي مذاکرې لپاره هغوي ته حاضریدل او له بیلا بیلو فرقو او د بیلا بیلو عقیدو له منوونکو سره د امام مناظرې او ځوابونه د اسلام د لومړیو پیړیو د علمي تاریخ ځلاندې پاڼې دي.داسي ښکاري چې د امام ځوابونه د وخت اوموقعې په مناسبت او د

---

1 . ارشاد مفید ص 252

پوښتنه کوونکي د عقل او پوهې سره سم او د هغې په اندازه ورکړل شوي دي.ځکه خو ځينې ځوابونه داسې دي چې د جدل کوونکي د برهان او دليل سستيا ، کمزورتيا يا ناسموالي څرګندوي، ځينې فکر اوسوچ ته د تپوس کوونکي د هڅولو لپاره دي، البته اکثره ځوابونه بشپړ علمي او فلسفي دي. ددغو ټولو مناظرو او ځوابونو بيانولو ته د يو ځانله کتاب ضرورت دی له دې امله زۀ يوازې څو اسان او د عامې پوهې وړ مناظرې وړاندې کوم.

✸ ابو منصور وايي زما يو ملګري ما ته نقل کړې ده چې له دوؤ دهريانو (څوک چې خداي نه مني) ابن ابي العوجا او عبدالله بن مقفع سره په مسجد الحرام کښې ناست وُم، ابن مقفع وويل دا خلق وينې؟ او هغو کسانو ته يې اشاره وکړه چې طواف يې کوؤ، په دوي کښې هيڅ يو د انسان د نوم لائق نۀ دي يوازې لوئې کس چې ناست دي (حضرت امام جعفر صادق(عليه السلام) ته يې اشاره وکړه). ابن ابي العوجا ورته وويل ولې په دغو ټولو کښې يوازې "دی" انسان بولې؟ ورته يې وويل ځکه چې په هغۀ کس کښې مې داسې علم، پوهه او فضيلت ليدلی چې نور يې نۀ لري. ابن ابي العوجا وويل: پکار ده چې زۀ ورسره پخپله وګورم چې ستا خبره سمه ده که غلطه؟ ابن مقفع وويل چې له دې کاره تير شه ځکه چې زۀ ويريږم کۀ له هغۀ سره دې خبرې وکړې نو له خپلې عقيدې او دهری توبه

به دي واړوي. ابن ابي العوجاء ورته ووئې چې تهٔ دا خیال کوې نو ورشه خو ګوره ډیر پام کوه چې څه ویل غواړې اوس يې ښهٔ زده کړه او وې تله چې کومې خبرې به کوې او نخښې پرې وکړه، مبادا هلته حق حیران پاتې شې او څهٔ غلطي وکړې؟

ابن ابي العوجا د امام کتنې ته ورغي او مونږ پاتې شو، څو شيبې وروسته راستون شو او وې ویل اي د مقفع ځويه تا خو وې دا انسان دی ما ته خو له انسانه لوړ ښکاره شو هغه خو انسان نهٔ دي بلکې دا يې يو شخصيت دی چې بیلګه يې ما نهٔ ده لیدلې. ابن مقفع وپوښتل ښه نو څهٔ چل وشو؟ ابن ابي العوجا وویل چې هغهٔ ته ورغلم کښیناستم، کله چې خلق لاړل او يوازې شو نو امام وفرمایل: که دین او ایمان خبره همداسې وي لکه دا مسلمانان يې چې وايي او حقيقتاً همداسې ده ( خداي اواخرت حق دي) نو دوي د سعادت او میکمرغۍ په لاره تللي دي او تاسو ترې پاتې شوي يئ او هلاک شوي يې او که حقيقت اصل هغه وي لکه چې تاسو يې وايئ (خداي او اخرت نهٔ وي) نو دا مسلمانان له تاسو سره برابر دي (يعنې مسلمانان چې په دین عقیده لري، تاوان يې نهٔ دي کړي ځکه چې ستاسو په شان دي ځکه چې که خداي او د حساب کتاب ورځ په اصل کې نه وي او دوي پرې ایمان لري نو دوي هيڅ تاوان نه دي کړې ځکه چې ستاسو په شان دي او که په اصل کې وي او دوي پرې ایمان لري او تاسو پرې ایمان نهٔ لرئ، نو

تاسو تاواني او هلاک يئ او دوي نيکمرغه او سعادت مند دي ځکه چې حقيقت لري خو تاسو پرې ايمان نۀ لرئ" ما ورته وويل خداي دې په تا رحم وکړي، مونږ څۀ وايو او مسلمانان څۀ وائې؟ زمونږ او دوي په عقيدو کښې خو څۀ فرق نشته؟ وې فرمايل ستا و د هغوي خبره څنګه يوه کيدې شي؟ حال دا چې هغي په خداي، د حساب کتاب په ورځ او د اسمانونو په رب ايمان لري او تاسو اسمان داسې يو وران ځائې ګڼئ چې هيڅوک پکښې نشته. ما دا فرصت غنيمت وګڼلو او ومې ويل: که حقيقت همداسې وي لکه مسلمانان چې عقيده لري نو خداي دوي ته ځان ولې نۀ ښائ او مخ په مخه يې ولې عبادت ته نۀ رابولي چې په خلقو کښې اختلاف ختم شي. ولې يې ځان پټ کړې او پيغمبران راليږي؟ که پخپله راغلې وې نو دا به د خلقو د ايمان لپاره ډيره ښه او موثره خبره وه. امام وفرمايل: افسوس دې وي په تا، هغه هستي په تا څنګه پټه پاتې ده چې ستا په وجود کښې يې تاته خپل قدرت ښودلی دی. او په دغو څيزونو کښې يې قدرت درته څرګند دی. تۀ يې پيدا کړې حال دا چې مخکښې نۀ وې، له وړوکوالي ورسته يې لوئې کړې، له بې وسۍ وروسته يې وس درکړو او له وسه وروسته يې بې وسه کړې، له روغتيا وروسته يې ناروغ او بيا يې روغ کړې، له غصې ورسته بې راضي او بيا يې غصه کړې، له غمه وروسته خوشحاليږې او بيا غصه کيږې، له دوستۍ ورسته په دښمنۍ او بيا دوستۍ، له

سستۍ وروسته په ټینګتیا او بیا په سستۍ او له بیزارۍ ورسته په غوښتنې او بیا په بیزارۍ کښې، ایا په دغو ټولو کښې د خداي نخښې نهٔ دي موجودې؟ تهٔ چا له غوښتنې ورسته بې میله او بې طبې کړي یې، چا درته له ناامیدۍ وروسته امید او له هیلې ورسته نهیلي درکړې ده او ستا ذهن ته هغه شې څوک دریادوي چې هیر کړې دې ؤ او دریادشو او له یاده ورسته دې بیا هیر کړو ایا دا ټول تا پخپله کړي دي. په دې کښې تاته د خداي قدرت نهٔ معلومیږي.... "امام همداراز زما په وجود کښې د خداي اثار ماته راڅرګندول او ما انکار نشو کولي تر دې حده چې ګمان مې وکړو چې خداي راته بشپړ مجسم شوی دی او موجود دی.

✸ عبدالله دلصیاني چې په خداي ایمان نهٔ لرلو د امام صادق(علیه السلام) کور ته ورغی، کښیناست او وې ویل اې د محمد ځویه جعفره! ما ته د خداي لپاره دلیل راوړه. امام وفرمایل نوم دې څهٔ دی؟ دلصیاني هیڅ ونهٔ ویل پاڅید او راووتو، دوستان یې چې خبر شو نو وې ویل خپل نوم دې ولې ونهٔ ښودهٔ. دلصیاني وویل: که ویلي مې وي چې نوم مې عبدالله (د خداي بنده) دي نو امام به ویل چې دا څوک دی چې تهٔ یې بنده یې؟ ملګرو یې وویل: بیا ورشه او ورته ووایه چې نوم دې نهٔ پوښتي خو په خداي دې دلیل راوړي. دلصیاني بیا راغي او امام ته یې وویل چې نوم مې مهٔ پوښته او د خداي په وجود راته دلیل راوړه. امام وفرمایل کښینه. د امام له کوچني

ځوي سره هګۍ په لاس کښې وه او لوبې يې ورسره کولې امام له هغۀ هګۍ واخسته او وې فرمايل: دا يو بند ديوال او حصار دی چې پوستکې يې کلک دی او له دې کلک پوستکي لاندې نرې پوټکې دی او په دغه نري پوستکي کښې حل شوي سرۀ زر او ويلې شوي سپين زر وي چې له يو بل سره نۀ يو ځائې کيږي او په همدې حال پاتې دي، نۀ ترې کوم رغاوونکې څيز راؤځي چې مونږ يې له سلامتۍ خبر کړي او نۀ کوم خرابوونکې څيز ورننوزي چې له خرابۍ يې خبر شو، هيڅ پته نشته چې کوم څيز به ترې راووځي هغه به نر وي يا ښځه، تر دې ورسته چوي او طاوسي رنګونه ترې راوځي. سره له دې هر څۀ، بيا هم فکر کوې چې ددې لپاره هيڅ پلانوونکې، مدبر او پنځوونکې نشته؟

دلصياني په فکر کښې ډوب شو، څو شيبې غلي ؤ بيا يې سر اوچت کړو او ويل ګواهي ورکوم چې له يوخداي پرته بل خداي نشته او هم هغه د عبادت وړ دی، محمد (ص) د خداي رسول دی او تۀ د خداي امام يې. زۀ په خپلو کړو پښيمانه او توبه ګار يم.

✸ هشام وائي يو زنديق له امام صادق عليه السلام څخه په خپلو پوښتنو کښې تپوس وکړوچې خداي څۀ شي دی؟ امام وفرمايل هغه "شې" دی خو د نورو شيئونو په اپوټه، او مطلب مې د دې جملې نه د دې خبرې د معنې ثابتول دي او دا چې هغه شې دی نو مطلب مې دا دی چې شيئت او وجود لري، خو

نۀ جسم لري او نۀ شکل، نۀ لمس کیږي او نۀ په پنځو حواسو سره درک کیږي او معلومیږي، او نه يې خيال او وهم درک کوي، نۀورله هلاکت او ختمیدل شته چې ګوندې تاوان او نقصان یا کمي ورته ورسیږي او نۀ پکښې د وخت تیریدل څۀ بدلون راولي. ستا په خيال هغه اوریدونکې او لیدونکې دی؟ هۀ هغه اوریدونکې او لیدونکې دی. اوریدونکې دی خو د اوریدو لپاره کوم غړې نۀ لري او لیدونکې دی بې د څۀ وسیلې چې ورسره وګوري، بلکې هغه په خپل نفس سره اوري او ګوري مطلب مې دا نۀ دی چې هغه ځانته یو شې دی او نفس يې ځانته بل شې، بلکې د هغۀ نفس او وجود یو دی او دا ټکي مې یوازې ستا د پوهولو لپاره وکاروۀ نو هغه په خپل ټول وجود سره اوریدونکې دی خو چې ما درته ووې چې په ټول وجود سره ددې معنا دا نۀ ده چې د هغۀ وجود جزونه او غړي لري یا تقسیمیدې شي بلکي دا ټکي مې ستا د پوهولو او افهام و تفهیم لپاره استعمال کړو او مطلب مې دا دی چې هغه اوریدونکې،لیدونکې، پوه او خبر دی له دې پرته چې په ذات او معنا کښې يې څۀ اختلاف وي. هغه رب، معبود او الله دي. او بیا هم د رب، معبود او الله نه زما مقصد د ر، ب، یا ال، ټکي نۀ دي بلکې مقصد مې ددغو ټکو معنا او هغه وجود دي چې د ټولو څیزونو پنځوونکې او جوړونکې دی. او له دغو ټکو څخه مې مطلب هماغه معنا ده چې نوم يې الله،

رحمان،، رحیم، عزیز داسې نور صفتونه دي چې په حقیقت کښې ټول د هماغه معبود نومونه دي.

زندیق وویل چې زمونږ فکر او سوچ ته چې څۀ هم راځي هغه مخلوق دي او خالق زمونږ فکر ته نشي راتلې. امام ځواب ورکړو که داسې وي نو د توحید تکلیف او عقیده زمونږ نه لرې کیږي یعني د خداي د منلو هیڅ ضرورت نشته ځکه چې کوم څیز بالکل فکر ته درنه شي او فکر یې درک نۀ کړې شي د هغې لپاره په مونږ هیڅ تکلیف او دنده نشته، خو نه، مونږ وایو چې هر هغه څیز چې په حواسو سره زمونږ فکر ته راشي، او په دغو حواسوسره یې مونږ درک کړو،او په خپلو حواسو کښې ورته یو شکل جوړ کړو چې هماغه شان یې تصور کړې شو، نو دا څیز مخلوق او پنځول شوې څیز دی او خالق او پنځوونکې نشي کیدی، نو ځکه پکار ده چې د خداي له وجود دوه څیزونه وباسو یو"نفي" ځکه چې که د خداي په وجود کښې مو "نفي" او نشتوالې فرض کړو نو دا د هغۀ ذات د باطلیدو او انکار سبب کیږي او دویم تشبیه(ورته والې، یا یو شان والې) ځکه چې دا صفت د مخلوق له صفتونو څخه دی او یوازې په مخلوقاتو کښې ویلی شو چې مثلاً (دا څیز ددغه څیز په شان دي) ځکه چې مخلوقات ټول له اجزاوو ترکیب او جوړ شوي دي. نو مجبور یو چې یو صانع پنځوونکې او خداي ثابت کړو ځکه چې مخلوقات هغۀ ته اړتیا او ضرورت لري، ټول مصنوع شوي او پنځول شوي دي خو پنځوونکې او

خالق يې د دوي په شان نۀ دی ځکه چې کوم څيز د دوي په شان وي هغه ددوي "شبيه" وي يعني ترکيب او جوړښت به يې يو شان وي او په دې کښې په شباهت او ورته والې لري. چې مخکښې نۀ وو، بيا راپيدا شول او وارۀ وو ،غټ شول يا مثلاً په تور والي او ناتوانۍ او توان کښې يا په نورو حالاتو کښې چې په مخلوقاتو راځي نو مطلب دا چې که خداي ته دې مخلوقاتو سره شباهت او ورته والې ورکړ نو مجبور يې چې د مخلوقاتو صفات او حالات هم ورته تصور کړې چې دا يوه غلطه خبره ده نو معلومه شوه چې مخلوق او خالق يو شان نۀ دي.

زنديق: کله چې مو خداي ثابت کړو نو په حقيقت د هغۀ لپاره د حد او حدود قائل شو او خداي حد نۀ لري.

امام: نه هيڅ کله د هغۀ لپاره د حد قائل نۀ يو بلکې يوازې د هغۀ شته والي او وجود ثابتوؤ او د اثبات او نفي تر مينځ بله مرتبه او پړاؤ نشته.

زنديق: ايا هغه هستي لري؟

امام: هؤ هيڅ څيز له خپلې هستۍ پرته نشي ثابتيدی.

زنديق: ايا هغه کيفيت او څرنګوالي هم لري؟

امام: نه، ځکه چې کيفيت او څرنګوالي صفتونه دي او يوڅيز چې په بل څيز کښې موجود وي نو ويلې شو چې مثلاً دا څيز داسې دی يا دغه شان او کيفيت او څرنګوالي يې بيان کړو، يعني که مونږ دخداي په

وجود احاطه ولرو هله ويلې شو چې خداي پاک مثلاً "سپين يا تور" دی يا داسې نور صفتونه ورته بيان کړو، خو د خداي پاک په اثباتولو له دوو شيزونو بايد تير يو له "نفي"څخه (چې ووايو چې خداي اصلاًشته نه ځکه چې دا د هغۀ انکار دی او د هغۀ د نشتوالي قائليدل دي) او دويم له تشبيه او څرنګوالي (يعني خداي بل کوم شيز ته ورته او د هغۀ په شان وبولو) ځکه چې څوک يې د بل چا په شان وبولي په حقيقت کښې هغۀ ته د مخلوقاتو د صفت قائل شوی دی، چې خداي پاک له دې ډير اوچت او پاک دي نو په کار ده چې ووايو هغه يو داسې کيفيت لري چې له هغۀ پرته د بل چا لائق او وړ نۀ دی. او نور څوک پکښې ګډون او شرکت نۀ لري، هيڅوک په هغۀ احاطه نۀ لري او هيچا ته پته نشته چې هغه څرنګ دی؟

زنديق: ايا هغه په خپل وجود سره کارونه کوي؟

امام: هغه تر دې لوړ او پاک دی چې په خپل وجود سره کار وکړي ځکه چې دا صفت د مخلوق صفت دی چې په خپل وجود سره له نورو شيزونو سره تماس او رابطه ټينګوي او لمس کوي يې او کارونه په خپلو غړو او بدن سره کوي،د خائې پاک ټول کارونه د هغۀ په اراده

کيږي د هغهٔ اراده نافذه ده او څهٔ چې وغواړي په خپلې اراده سره يې کوي[1].

## د مفضل د توحيد رساله

په دي رساله کښې د انسان او نړۍ د پنځوونې، د خداي پاک د وجود د ثابتولو او د هغهٔ د علم قدرت او حکمت په باره کښې ګټورې خبرې دي چې حضرت امام صادق(عليه السلام) په څلورو محفلونو کښې د مفضل لپاره بيان کړي دي او مفضل د امام په اجازت سره ليکلي دي.

مفضل د دې رسالې په سريزه کښې ليکي: يوه ورځ د نمر پريوتو په وخت د پيغمبر(ص) په جومات کښې ناست ؤم او د پيغمبر(ص) د عظمت او د هغهٔ د لوړاوي او شرافت په باره کښې چې خداي پاک ورته ورکړى دى په سوچ کښې ؤم. ناڅاپه ابن ابي العوجا چې يو دهريه او لا مذهب ؤ راغى او په داسې ځائې کښې کښيناست چې ما يې خبرې اوريدلې يو ملګري يې هم ورسره کښيناست او دواړو د پيغمبر(ص) په حقله خبرې پيل کړې. له دغو خبرو ورسته د خداي خبرې شروع شوې او خبره يې دى ته راورسوله چې دا نړۍ او مخلوق

1 . اصول کافي ج1 ص 83

کوم خالق او پنځوونکې نۀ لري او ټول څیزونه پخپله پیدا کیږي مخکښې هم داسې ؤ او بیا به هم داسې وي.

کله چې مې له دغو دوو دا خبرې واوریدې نو له ډیرې غصې مې په ځان کنټرول ونۀ کړې شو او ومې ویل ای د خداي دښمنه ولې زندیق او بې دینه شوې او له هغه خدایه دې انکار وکړو چې تۀ یې په بهترین او ښکلي شکل پیدا کړې، له بیلا بیلو حالاتو یې تیر کړې او تر دې حده یې راورسولې، که لږ په خپل ګریوان کښې وګورې او له خپلو مغزو او ضمیره وپوښتې د خداي پاک د پیدایښت اثار او د هغه حکمت او نخښې نښانې په تا کښې روښانه دي.

ابن ابي العوجا وویل: اي سریه! که ته متکلم یې (څوک چې د عقائدو له بحثۀ خبر وي او په بحث و جدل کښې ماهر وي) نو له ما سره د هغې په طریقه خبرې کوه نو که زۀ دې پړ کړم ستا خبره به ومنم او که متکلم نۀ یې نو له تا سره خبرې ګټه نۀ لري او که تۀ د حضرت محمد (ص) له یارانو څخه یې نو خبر شه چې هغۀ له مونږ سره په دې طریقه خبرې نۀ کوي او په دا ډول له مونږ سره مجادله نۀ کوي. هغه زمونږ خبرې تر تا ډیرې اوریدلي دي خو مونږ ته یې کنځل نۀ دي کړې او زمونږ په ځواب کښې بې کنټروله شوې نۀ دی. هغه ارام، صابر عاقل او نرم دی. او غصه او کم عقلي یې نشي لاندې کولې، زمونږ خبرې او دلیلونه اوري، څۀ چې مو یاد وي هغه ورته وایو او ګمان کوؤ چې هغه مو پړ کړ خو په ډیرو کمو اولنډو خبرو او

دليلونو سره په مونږ برياليې شي او مونږ باطل کړي په لنډو خبرو سره په مونږ حجت ختم کړي تر دې چې مونږ لا ځوابه شو نو ته کله د هغه له اصحابو يې نو څنگه چې له هغه سره ښائي له مونږ سره خبرې وکړه، زه ډير په خفگان له جماته راووتم او د همدغو ملحدانو په خيال کښې د امام صادق(عليه السلام) خدمت ته ورغلم امام چې زه وليدم نو وې پوښتل څه چل شوى دى؟ ما ورته د دهريانو خبرې وکړې. وې فرمايل: تا ته به د نړۍ ځناورو، وحشي ځناورو، حشراتو، مارغانو، انسانانو، بوټو د ميوه لرونکو او بې ميوې ونو او سبزيو په خلقت او پيداوښت کښې د لوئې خداي حکمت بيانکړم چې عبرت اخستونکي ترې عبرت واخلي او د مومنانو معرفت زيات شي. او کافران او ملحدان پکښې حيرانه پاتې شي. سبا سهار ما ته راشه. په دې توفيق ډير خوشحاله شوم کور ته راغلم او د وعدې په انتظار کښې راباندې شپه اوږده شوه.

## لومړى محفل

سهار د امام صادق(عليه السلام) خدمت ته حاضر شوم. امام زه خپلې کوټې ته وغوښتم،ورغلم او کښيناستم. امام وويل: مفضله زما په خيال شپه درباندې په انتظار کښې اوږده شوه. عرض مې وکړو (هو). امام وفرمايل: اي مفضله! خداي ؤ او تر هغه مخکښې هيڅ نه وؤ، هغه باقي دى او شتون يې پائي نه

لري حمد و ثنا د هغهٔ لائقه ده د هغهٔ شکر او مننه چې د علومو او پوهو لوئې درجې يې مونږ ته راکړې او مونږ يې په خپل حکمت ګواه کړو. مفضل له امامه وغوښتل چې دا مطالب له ځان سره وليکي. امام هم اجازت ورکړو.

"اي مفضله! څوک چې د نړۍ د پنځوونکي په وجود کښې شک کوي د نړۍ د پيدايښت په عجايبو ناخبره دي او د خداي پاک په حکمتونو نهٔ پوهيږي نو ځکه د خپل فکر او پوهې د کوتاهۍ او لنډون له امله د انکار په لاره تللي دي او د خپل بصيرت د بې وسۍ په وجه يې سپين سترګې توب او دروغو ته مخه کړې ده تر دې چې منکر شوي او وائي دا مخلوق خالق نهٔ لري او نړۍ تدبيرونکې نهٔ لري او څهٔ چې پيښيږي د حساب اندازې حکمت او تدبير په اساس نهٔ دي. نو خداي د دوي له خبرو لوړ دی. دوي د خداي له رحمته لرې شوي دي، دوي په ګمراهۍ، ړوندوالې او حيرانتيا کښې د هغو کسانو په شان دي چې يوې ښکلې او سينګارې ودانۍ ته ورننوځي چې پکښې قيمتي او ښائسته قالينونه خوارهٔ وي، قسما قسم خوراکونه، جامې لوښي سامان او د انسان د اړتيا ټول څيزونه پکښې تيار وي اوټول څيزونه په خاصې طريقې، تدبير او سمې اندزې سره په خپل ځاې پراتهٔ وي، نو دا ړاندهٔ چې دې کور ته ورننوځي او ګرځي پکښې په داسې حال کښې چې نهٔ کور ويني نه پکښې سينګار شوې سامان او په هغې کښې تيار شوي څيزونه، کله نا کله دوي په ځينو

څيزونو تيندک وخوري نو غصه شي چې دا بې ځۀ ته ايښي دی او ددغو ځۀ ضرورت دی؟ نو بس د کور مالک او رغاونکي ته بدې ردې شورو کړي. نو هغه کسان چې د نړۍ د معبود ښۀ تقدير او په هستۍ کښې د کامل تدبير انکار کوي د دوي مثال د همدغو ړندو په شان دی ځکه چې ددغه منکرانو ذهنونه او فکرونه د څيزونو په اسبابو او علتونو او فائدو نۀ پوهيږي او په دې دنيا کښې حيران دريان او لا لهانده دي او په دې سرائې او نړۍ کښې چې د نظام کوم سموالي او د جوړونې ښائست دي او ښکلتيا ده په دې نۀ پوهيږي او چې کله داسې څيز ويني چې په سبب يې نۀ پوهيږي او عقل يې د هغو په حکمت نۀ رسيږي، بد رد وائي او انکار کوي او وائي چې دا خو خطا او بې تدبيري ده"

امام په لومړي محفل کښې په خپلو خبرو کښې د انسان د خلقت د بيلا بيلو حکمتونو او الهي نعمتونو تفصيل بيان کړ خو د اختصار او لنډون لپاره همدا بس کړم.

## دويم محفل

اي مفضله! د حکيم او توانمن خداي په تدبير فکر وکړه. دا داړونکي او ښکاري ځناورو په پيداوښت کښې چې څنګه ورته تيز او پريکوونکي غاښونه، سختې او پياوړ پنجې او لوئې خلې ورکړل شوي دي چې د دوي له دنيا او طبعې سره

مناسب وي او همداراز ښکاري او غوښې خورو مارغانو ته يې د هغوي له کار سره مناسبې پنجې ورکړې وې نو داسې څيز به يې ورکړی ؤ چې هغوي ورته اړتيا نۀ لري ځکه چې ښکار نۀ کوي او غوښه نۀ خوري او که داړونکو ځناورو ته يې سمونه ورکړي وې نو داسې څيزونه به يې ورکړي ؤ چې هغوي ورته اړتيا نه لري او داسې څيز به يې نۀ ؤ ورکړې چې هغوي ورته حاجت لري نو ته نۀ وينې چې خداي پاک د ځناورو دغو دوؤ ډولونو ته ده هغوي له ژوند او صلاح سره سم څيزونه ورکړي دي.

اوس د ځناورو بچو ته وګوره چې له زوکړې ورسته څرنګ بې د مور له مرستې ګرځي او هغه روزنې او مرستې ته چې د انسان اولاد ورته حاجت لري، اړتيا نه لري ځکه هغه څه چې د انسان مور پرې پوهيږي او د بچو د روزنې او تربيت پوهه چې د انسان مور ته ورکړل شوې ده د ځناورو ميندې يې نۀ لري نو ځکه خداي پاک د ځناورو بچو ته بې له کوم روزونکي او استاده دا توان ورکړې چې له زوکړې فوراً وروسته په خپلو پښو ودريږي چې ضايع نۀ شي. بې له استاده د خپلې ودې او صلاح لارې پيل کړي او کمال ته ورسي. همداراز د ډيرو مارغانو لکه د چرګې، زرکې، سيسۍ او داسې نورو بچي د هګۍ نه له راوتلو فوراً ورسته ګرځي او دانې ټولوي خو خداي پاک د ځنيو نورو مارغانو چې کمزوري دي او الوتی نشي لکه کونترې او داسې نورو د بچو لپاره مهربانه ميندې

ټاکلي او میندو ته یې ورله پوهه ورکړې ده چې یې د الوت قابل شي او ځکه یې ورته د چرګې د بچې په شان ډیر بچې نهٔ دي ورکړي ګوندي نهٔ وي چې هر یو ته ونهٔ رسیدې شي او هغه همداسې ضایع شي. نو تهٔ وینې چې هر یو د حکیم خداي د حکمت او تدبیر یوه برخه وړې ده.

## دریم محفل

اوازونه یو داسي اثر دی چې د جسمونو له جنګیدو څخه په هوا کښې پیدا کیږي او هوا یې زمونږ غوږونو ته رسوي. خلق ټوله ورځ او د شپې په یوه برخه کښې له خپلو ضرورتونو سره سم خبرې کوي که دا خبرې او اوازونه په هوا کښې پاتې کیدل نړۍ به له اوازونو ډکه وه او خلقو ته به چارې ګرانې شوې وې او د کاغذونو تر جوړولو زیات به د هوا بدلولو ته ضرورت ؤ ځکه هغه خبرې چې کیږي تر لیکلو ډیرې زیاتې دي. حکیم کردګار دا هوا د یو لطیف او نرم کاغذ په شان ګرځولې ته چې خبرې او اوازونه وړی راوړی او بیا پکښې د خبرو اثار ورکیږي او د نورو اوازونو لپاره صفا کیږي که تهٔ یوازې د دې هوا په مصلحت هم غور وکړې نو ستا د عبرت لپاره کافي ده ځکه چې د بدن د ژوند سبب ده او د هوا راکښل بدن تازه او ژوندې کوي، له بهره هم بدن ته ګټه لري.اوازونه له لرو ځایونو راوړي او ښهٔ بویونه پوزو ته رسوي، له کومې خوا چې هوا

ډېره راځي، اوازونه او بويونه هم ډېر راځي.همداراز د ساړه او تودوښې وړونکې هم هوا ده چې دا دواړه د نړۍ د چارو په نظام او صلاح کښې اغېيزمنې دي.

د بيلا بيلو ونو په ټوکيدو غور وکړه. په کال کښې يو ځل ونه مري، حرارت يې د ننه پټېږي او د ميوۀ مواد او توکي پکښې دننه جوړيږي اوبرابريږي، په بل پسرلي کښې بيا ژوندي کيږي او تاته ډول ډول ميوې چمتوکوي، هره ميوه په خپل وخت، لکه څنګه چې ميلمستياوو کښې په هر مناسب وخت مناسب خواړۀ او خوارۀ وړاندې کيږي. که ځير شې نو پوهه به شې چې له ميوو ډکو ونو تاتا خپل لاسونه له ډول ميوو سره خوارۀ کړي دي، د باغ په انګڼ کښې د ګلونو، ريحانو، نسرينو او ياسمينو ګلدستې ستا په وړاندې دي چې کومه دې خوښه وي وايې خله، که عاقل يې نو ولې خپل کور نۀ پيژنې، که وښيار يې نو ولې ددغو لطفونو په ډول ډول والي نۀ پوهيږې؟ دا ټولې ميوې، خواړۀ سبزۍ، رنګا رنګ ګلونه، غرونه او هوارې يې ستا لپاره تيارې کړي دي او تۀ د هغۀ د احسان منکر او د حکم نافرمان ئې، د شکر په ځائې ناشکري او د نعمتونو په وړاندې ګناه کوې.

د انار په جوړښت غور وکړه چې د بخښونکي خداي نښې نښانې پکښې ښکارندې دي. په دې کښې يې غوړينې غونډۍ ودرولي او له غونډيو ګير چاپيره يې د انارو دانې ښخې کړي دي، دانې يې په څو برخو ويشلي او له هرې برخې يې پرده تاو

کړې ده او دا پرده دومره نرمه او لطيفه ده چې د انسان عقل ورته حيرانيږي او بيا يې دا ټول په يو کلک پوټکي کښې راغونډ کړي دي. د پيدابښت تدبير دومره دقيق او باريک دي که انار دننه ټول له دانو ډک وي نو دانو ته به د تغزيې او خوراک لپاره کومه لاره نۀ وه نو دا غوړ پوست ديوال يې ددانو په منځ کښې جوړ کړی دی چې په دې طريقې سره هرې دانې ته خوراک رسي او بيا يې دانو د حفاظت لپاره په هغو نرمۍ پردې غوړولي دي چې دا دومره تازه او اوبلنې دانې له سړۀ تودوخې او نورو افتونو وساتي. دا د انار د پيدايښت او جوړښت له حکمتونو څخه يوازې يوه نمونه ده.

## څلورم محفل

اوس به درته د افتونو او بلاګانو په حقله څۀ ووايم چې کله کله راځي او ځينو جاهلانو او نا پوهه خلقو د خداي پاک او د هغۀ د پنځوونې تدبير او تقدير د انکار لپاره يوه وسيله ګرځولې ده او وائي چې دا د خداي پاک د حکمت په خلاف پيښيږي لکه وبا، طاعون، ساري ناروغۍ، تيزه ږلۍ او ملخان چې پټې او ميوې له منځه وړي. د دوي په خواب کښې وايم چې که په نړۍ کښې کوم خالق او تدبيرونکې نۀ وې نو تر دې زياتې بلاګانې او افتونه به راشي. مثلاً د اسمان او زمکې نظام به سست او خراب شي، ستوري به له زمکې سره

وجنګيږي يا به په اوبو کښې ډوبه شي، يا نمر به نۀ راخيژي، چينې به اوچې شي، هوا به ودريږي، ټول ژيزونه به فاسد شي، يا د سمندر اوبۀ به ختمې شي، هوا به ودريږي، ټول ژيزونه به فاسد شي، يا سمندر اوبۀ به په زمکې راوخيژي او ټول ژوندي ساري به غرق کړي او دا افتونه مثلاً طاعون او داسې نور هم چې راشي نو ډير وخت نۀ پاتې کيږي بلکې زر ختميږي چې ټول نابود او ختم نۀ کړي او کله کله راځي. تۀ نۀ ګورې چې نړۍ له دغو لويو لويو بلاګانو او مصيبتونو په امن کښې ده او کله کله وړې بلاګانې او افتونه په خلقو راځي چې وويريږي او په ادب شي، بيا خداي دغه بلاګانې زر ايلې او ختمې کړي چې ددغو بلاګانو له راتللو خلق سبق او نصيحت زده کړي او لرې کول يې د هغوي لپاره رحمت او نعمت شي. بې دينه کسان د هغو مصيبتونو او افتونو چې په خلقو راځي په باره کې وائي که د نړۍ او مخلوق پيدا کوونکې او پنځوونکې مهربانه وي نو دا مصيبتونه په خلقو ولې راځي؟

ددې خبرې کوونکي ګمان کوي چې په نړۍ کښې د بنياده ژوند او عمر بايد له هر کړاوه، غمه او مصيبته پاک او خالي وي. که داسې وه نو په خلقو کښې به دومره شر فساد بلوا او تيري رامنځته شوي وۀ چې نۀ د هغوي ددې دنيا په صلاح دي او نۀ يې د هغې دنيا. لکه چې وينې ځينې کسان چې په ناز و نعمت او نياز بينۍ کښې پيدا شوي او په سوکالۍ، امن او شته منۍ کښې يې ژوند کړي په کفران، شيطانۍ او بې لارۍ

کښې تر دې حده رسيدلي چې ګوندې هير کړي يې دي دوي هم د خداي مخلوق او بندګان دي او هيره کړې يې ده چې ممکنه ده دوي ته هم تاوان او زيان ورسي يا په مصبت او غم کښې ګير شي. او دا خبره يې خواب په خيال که هم نۀ ګرځي چې په بې وسو رحم وکړي يا د فقير او غريب لاس ونيسي يا يې په کوم غم لړلي او دردزپلي زړۀ ويوزي او په مصبت زپلي مهرباني وکړي. خو که انسانانو ته غم او کړاو ورسي او مصيبت او بلا پرې راشي ډير جاهلان او غافلان د غفلت له خوبه راويښ شي او له ډيرو فسادونو ګناهونو چې کړي يې دي توبه ګار کيږي. څوک چې په جهان او نړۍ کښې دا غمونه او کړاوونه نۀ خوښوي په حقيقت کښې د هغو ماشومانو په شان دي چې تراخۀ دارو او شربت يې نۀ خوښيږي او بد ورپسې وائي او چې طبيب يې له خوږو اوخوندورو ځيزونو (چې تاوان ورته لري) منع کړي نو غصه کيږي. د علم او سبق زده کول ورته ګران او سخت ښکاري غواړي چې تل په لوبو او منډو تړرو کښې وخت تير کړي او هر خوراک څښناک چې غواړي ئې، بې له دې چې پوهه شي چې لوبې او لهو و لعب يې دين او دنيا ته څۀ تاوانونه لري. او هغه خوږې ډوډۍ او خوراکونه چې طبيب ترې منعې کړي دي هغوي ته کومې ناروغۍ ورلګوي. او په دې نۀ پوهيږي چې علم و ادب د هغوي لپاره ښې پايلې او نتيجې لري او تراخۀ داروګان يې د روغتيا سبب دي. ډير داسې سختۍ او غمونه دي چې ورپسې

خوشحالۍ راځي. د امام صادق(علیه السلام) ملګري او شاګردان لکه څنګه مو چې وویل اموي او عباسي چارواکو ګران امامان سخته ځارل او خلق به یې هغوي ته له ورتګه منعې کول، سره له دې د بني امیه وو د حکومت په پایې او د بني عباسو د حکومت په پیل کښې د هغوي د جګړو او نښتو په وجه د علم لیوالو ته موقعه په لاس ورغله چې د امام محمد باقر علیه السلام او امام جعفر صادق(علیه السلام) له مکتبه استفاده وکړي.

## د امام صادق علیه السلام شاګردان

د امام صادق(علیه السلام) په مکتب او مدرسې کښې ډیر شاګردان وروزل شول چې اسلامي معارف او علمونه یې په بیلا بیلو زمینو کښې ښه زده کړل او نورو ته یې ورسول. شیخ طوسي په خپل کتاب "رجال" کښې هغه کسان قابو زر تنه بللي چې له امامه یې علمي استفاده کړې یا روایتونه یې نقل کړي دي. د دغو کسانو د مقام لوړاوي او ورستیو نسلونو ته د علومو او معارفو انتقالولو کښې د هغوي د کړاوونو او تکلیفونو د درناوي لپاره یوازي د دریو کسانو نومونه اخلم.

1: حمران بن اعین شیباني(رح):

د اعین کورنۍ د رسالت او امامت د کورنۍ عاشقه او لیواله وه او حمران و زراره دواړه وروڼه د خپل وخت له مشهورو فقیهانو او ځلاندو علمي ځیرو څخه وؤ او د امام باقر علیه السلام او امام صادق(علیه السلام) له یارانو ګڼل کیږي. امام صادق(علیه السلام) وفرمایل: حمران بن اعین یو ایماندار کس دی چې خداي قسم له خپل دینه نۀ ګرځي. او همدارز فرمائي: حمران له جنتیانو دی[1].

یونس بن یعقوب وائي: حمران د کلام او عقائدو په علم ښۀ پوهیدو او هشام بن سالم وائي: د امام صادق علیه سلام له یو شمیر ملګرو سره د هغوي په خدمت کښې ؤم یو شامي راغی امام صادق(علیه السلام) ورنه وپوښتل څه غواړې؟ وې ویل اوریدلي مې دي چې تۀ د هرې پوښتنې ځواب ورکوې نو راغلي یم چې مناظره درسره وکړم. وې فرمایل: د څۀ په حلقه؟ وې ویل د قران په باب.امام صادق علیه السلام حمران ته واستوۀ. هغۀ وویل زۀ له تا سره مناظرې ته راغلي یم نۀ له حمران سره. امام وفرمایل: که حمران دې پړ کړو نو زۀ دې پړ کړی یم. شامي سړي حمران ته ورغي او څۀ یې هم چې وپوښتل ځواب یې ترلاسه کړ. تر دې چې ستړی شو. امام ورته وفرمایل: حمران درته څنګه ښکاره شو؟ وې ویل یو ماهر استاد دی ځکه چې د هر څۀ ځواب یې راکړ.

---

1 . رجال کشي ص 176

## 2: عبدالله بن ابي یعف:

د امام صادق(علیه السلام) له خاصو یارانو څنې ؤ. د امامت د مقام په معرفت او پیژندګلو کښې دومره مخکښې تللی ؤ چې لا اطاعته پرته ورنه چۀ نۀ لیدل کیدل. یو ځل یې امام صادق(علیه السلام) ته وویل: کۀ تۀ یو انار دوه ټوټې کړې او ووائې چې دا نیم حلال دی او نیم نور حرام نو ګواهي ورکوم چې حلال به حلال او حرام به حرام وګڼم. امام ورته وفرمایل: خداي دې په تا رحمت وکړي. ابن ابي یعفور د امام صادق(علیه السلام) په وخت کښې وفات شو.

## 3: مفضل ابن عمر جعفي(رح):

مفضل د امام صادق(علیه السلام) له لویو یارانو، خواصو او له موثقو او باوري فقهاوو څخه ؤ. د امام نزدې ملګرې او د ځینو چارو مشر ؤ. ځینې کسان مدینې ته راغلل او له امام صادق(علیه السلام) یې وغښتل چې دوي ته یو داسې کس وښائې چې د ضرورت په وخت ورته ورشي، امام وفرمایل: چې څۀ پوښتنه هم لرئي ماته راځئ. دوي ټینګار وکړو چې ضرور ورته یو کس معرفي کړي. امام وفرمایل: مفضل تا سو ته ټاکم، هر څۀ چې ووائي منئ یې ځکه چې هغه حق وائي.

امام صادق(علیه السلام) په څو غونډو کښې مفضل ته توحيد په باب ځانګړي درسونه ورکړل چې ټولګه يې د "توحيد مفضل" کتاب دی. چې مخکښې مو ترې ځينې برخې بيان کړې دا درسونه په مفضل باندې د امام د خاص نظر او د امام په نزد د هغهٔ د مقام د لوړاوي شاهد دي. مفضل امام صادق(علیه السلام) ته دومره خوږ ؤ چې يو ځل ورته امام وفرمايل: په خداي قسم تهٔ مې خوښ يې او څوک چې ستا خوښ دي هغهٔ سره هم مينه لرم."

## د امام شهادت

د عباسي حکومت ظالم باچا منصور دوانيقي چې د بني عباسو په خليفه ګانو کښې يو رذيل ، ظالم او سخت خليفه ؤ تل به يې امام په خپلو مامورانو او پوليسو سره سخت څارلو او څو ځله يې امام د شهيدولو او ازارولو لپاره ځانته راغوښتې ؤ خو تقدير نهٔ ؤ غوښتي نو په خپلو پليتو ارادو کښې به نهٔ کاميابيدهٔ.

اووم امام حضرت موسی کاظم علیه السلام فرما يې يو ځل منصور زما پلار راوغوښت چې شهيد يې کړي توره يې

هم تیاره کړه او خپل یو درباري"ربیع" ته یې وویل چې کله جعفر بن محمد علیه سلام رانبوځي او زهٔ ورسره خبرې وکړم په خبرو کښې چې کله زهٔ لاسونه وپړقوم نو سر یې ووهه.

امام رانبوت خو چې د منصور نظر پرې ځنګه پریوت له خپل ځایه پاځیده، هر کله راشه یې ورته ووئې او عرض یې وکړو چې ددې لپاره مې راغوښتي یې چې پورونه دې درکړم بیا یې په مسکا سره له امامه د حال احول وپوښتهٔ. او ربیع ته یې وویل چې تر دریو ورځو پورې جعفر ابن محمد کور ته ستون کړه. خو با لاخره منصور امام وجود ونهٔ زغملې شو ځکه چې د امام امامت او رهبرۍ اوازه په ټولو اسلامي زمکو کښې خپره شوې وه. هغوي ته یې ده هجرت په **148** کال د شوال په میاشتې کښې زهر ورکړل او امام د شوال په پنځهٔ ویشتمه نیټه په پنځهٔ شپیتهٔ کلنۍ کښې له فاني دنیا لاړ او پاک جسد یې د بقیع په مقبره کښې د خپل ګران پلار په خوا کښې خاورو ته وسپارل شو. په حقیقت کښې نړۍ د هغه ستر امام په شهادت سره له یو لوئې شخصیت او قیمتي ګوهره محرومه شوه[1].

## د امام صادق(علیه السلام) ورستې وصیت

1 . اعلام الوری ص 766

د امام صادق(عليه السلام) يو ملګرى ابو بصير وايي د امام له شهادته وروسته د هغوي ماندينې بي بي ام حميده ته د غمرازۍ لپاره ورغلم. مونږ دواړو د امام په غم کښې ډيره وژړل بيا يې ما ته وويل: اي ابو بصيره! که د امام د وفات په وخت وې نو حيران شوي به وې ځکه چې امام سترګې وغړولې او وې ويل چې ټول خپل خپلوان راغونډ کړه چې کله راغونډ شول نو امام ټولو ته وکتل او وې فرمايل:"مونږ هغو کسانو شفاعت نۀ کوؤ چې مانځه ته سپک ګوري."

## د امام څو ارزښتناکې خبرې

✸هر يو مسلمان چې د خپل مسلمان ورور د ضرورت او د هغۀ د غوښتنې د پوره کولو لپاره کوشش وکړي د هغه چا په شان دی چې د خداي په لار کښې جهاد وکړي.

✸خداي پاک فرمايلي دي: خلق زما د کورنۍ په شان دي ما ته هغه کس ډير خوږ دی چې له خلقو سره ډير مهربان دی او د نورو د اړتياوو د پوره کولو کوشش کوي.

✸د خلقو ټولې ګټورې پوهنې او علمونه په څلورو څيزونو کښې دي:
1: دا چې خپل رب وپيژني.
2: په دې پوهه شي چې له تا سره يې څۀ کړي دي او څۀ نعمتونه يې درکړي دي
3: دا چې خبر شې ستا خداي څۀ غواړي او ستا دنده څۀ ده؟
4: هغه څيزونه وپيژنې چې له دينه دې وباسي.

✸څلور خويونه د پيغمرانو له اخلاقو څخه دي، نيکي کول، سخاوت، صبر او د مسائلو په وړاندې ټنګتيا، د مومنانو د حقونو خيال ساتل.
✸ مومن په دوو ويرو کښې راګير دی: تيرې ګناهانې چې نۀ پوهيږي خداي به ورسره د هغو په حقله څۀ کوي او پاتی عمر چې نۀ دی خبر نورې به کومې ګناهانې کوي او ورځ شپه کوي او همدا ويره ددۀ د اصلاح سبب ده.
✸هيڅوک تر هغه وخته د ايمان په حقيقت نۀ شي پوهيدلي چې دا درې خصلتونه پکښې نۀ وي. په دين کښې پوهه او بصيرت، په روزۍ او ژوند کښې سمه اندازه، په مصيبتونو او کړاوونو کښې صبر.
✸ درې تنه په دويو ځايونو کښې پيژندل کيږي، صابر او زغم لرونکې د غصې په وخت، ميړاني د جنګ په وخت او ورور د ضرورت په وخت.

✸ د هر ښار او سيدونکي داسې دريو کسانو ته اړتيا لري چې ددنيا او اخرت په کارونو کښې ورته پناه يوسي، يو پوهه او نيک فقيه، خير غوښتونکې چارواک چې خلق يې منوونکي وي او ماهر طبيب او ډاکټر.

✸ د هرې ښيګړې او نيکۍ جرړه مونږ يو او ټولې نيکۍ زمونږ له څانګو او پاڼوڅخه دي، توحيد روژه د غصې څښل له هغه چا تيريدل چې له انسان سره يې بدي کړې ده په اړمن رحم کول له ګاونډي سره مرسته او د فضيلت لرونکو او لويانو په لويۍ اعتراف دا ټول له نيکيو څخه ګڼل کيږي.او زمونږ دښمنان د هرشر او بدې جرړه ده او ټولې بدګڼې د هغوي څانګې او پاڼې دي. منجمله دروغ، کنجوسي، چغل خوري، د رحم غوڅول، سودخوري، د يتيم د مال خوړل، د خداي له حدونو تيرې، د پټواو څرګندو جرمونو کول، زنا، غلا او داسې نور هغه سړي دروغ وايي چې ځان زمونږ منونکي بولي په داسې حال کښې چې زمونږ د دښمنانو څانګو ته يې لاس اچولې او ورپورې اويزاند دي.

✸ ✸ ✸